# مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۸ د چنگاښ ۲۵مه | د ۲۰۱۹ د جولای ۱۶مه | دریم کال| ۴۰۵مه گڼه


## څېره


۴ مخ

## نېکولاس مادورو



نېکولاس مادورو په ښوونځي کې ټنبل و، له ښوونځي وروسته یې ډرایوري کوله، وروسته د بس د اتحادیې مشر شو، له هغه وروسته یې سیاسي فعالیتونه پیل کړل او بالاخره په ۲۰۱۳ز کال کې د وینزویلا ولسمشر وټاکل شو.

## سږ کال به په هلمند کې د انگورو ۹۰ زره متریک ټنه حاصلات تر لاسه شي



د هلمند د کرنې ریاست مسوولین وایي، سږ کال به د دغه ولایت د انگورو له باغونو څخه ۹۰ زره متریک ټنه حاصلات تر لاسه شي چې د تېرو کلونو په پرتله لس سلنه زیاتوالی ښیي.

د هلمند د کرنې رییس زلمی الکو وایي: «موږ هر کال په دې ولایت کې د بڼوالو په همکارۍ درې سوه نوي باغونه جوړو، ترڅو د کوکنارو کښت د مخنیوي لپاره یو ښه بدیل شي او دې کار نتیجه هم ورکړې ده».

د دغه ولایت بڼوال هم د انگورو له حاصلات خوښ دي؛ خو وایي، حکومت نه ورته مناسب بازار پیدا کوي او نه هم سړې خونې ورته جوړوي، چې هر کال یې له همدې امله ډېر حاصلات له منځه ځي. دوی له مسوولو چارواکو غواړي چې یاده ستونزه یې حل کړي، څو یې محصولات ضایع نه شي.

## د ټاکنو په اړه د عبدالله خبرداری؛

### په راتلونکو ټاکنو کې د تېرو ناکامو تجربو تکرار فاجعه رامنځ ته کوي



۳

د شپنیو عملیاتو هدف څه دی!؟

۲ مخ

له واشنگټنه تر لندنه؛ د پاکستان استخباراتي اداره څنگه د امریکا بهرنۍ پالیسي اغېزمنوي؟

۲ مخ

څنگه خپل ځان وښنو، څو یو خوښ انسان شو؟

۵ مخ

## گډو ځواکونو په اروزگان کې ۳۵ ملکیانو ته مرگ ژوبله اړولې

د اروزگان ولایت پخوانی والي او ځایي سرچینې وایي چې د گډو ځواکونو په عملیاتو کې تر ۳۵ زیاتو ملکي وگړو ته مرگ ژوبله اوښتې ده.

ځایي سرچینې وایي، دا عملیات وړمه شپه د گېزاب ولسوالۍ په خلج سیمه کې شوي دي. د سرچینې په خبره، افغان او نړیوالو ځواکونو د طالبانو پر مرکزونو شپنۍ چاپې وهلې چې د طالبانو له غبرگون سره مخ شوي او یاده مرگ ژوبله اوښتې ده.

بلخوا د اروزگان پخواني والي او د گېزاب ولسوالۍ د خلج د سیمې اوسېدونکي امان الله تیموري پژواک خبري اژانس ته ویلي چې وژل شوي کسان یې د کورنۍ غړي دي. د هغه په خبره، په بمباریو کې شپږ وسله وال طالبان هم وژل شوي دي.


خلج سیمه له کلونو راهیسې د طالبانو تر کنټرول لاندې ده چې افغان او بهرني ځواکونه وخت ناوخت پکې د طالبانو د ځپلو په موخه شپنۍ چاپې وهي.

په ورته وخت کې په ختیځ کې د ۲۰۵ اتل قول اردو بیا په هوایي بریدونو کې د ملکي وگړو د مرگ ژوبلې راپورونه رد کړي دي.

د دغې قول اردو له خوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې دوی د ملکي تلفاتو راپورونه او ادعاوې جدي نیسي، افغان او ناټو همکارانو تل هڅه کړې چې ملکي وگړو ته خطرونه کم کړي.

خو وسله والو طالبانو تر اوسه په دې اړه څه نه دي ویلي. د یادونې ده چې په دې وروستیو کې د ملکي مرگ ژوبلې پېښې زیاتې شوې دي، چې په پراخه توگه یې غبرگونونه هم راپارولي دي.

## د سپتمبر تر لومړیو به له طالبانو سره ابتدایي تفاهم رامنځ ته شي



۵ مخ

## <u>نامزدان</u>: غني به هدف کمپاین به پروژه‌های کهنه مراسم گشایش می‌گیرد



رئیس‌جمهور غنی، روز یک‌شنبه (۲۳سرطان) سنگ تهداب مجتمع نهادهای دولتی را در منطقهٔ دارالامان شهر کابل گذاشت؛ اما این پروژه یک سال پیش از سوی سید سعادت نادری، وزیر پیشین شهر سازی گشایش یافته بود.


در ماه حوت سال‌پار رئیس‌جمهور هنگام سفر به ولایت کنر، شفاخانهٔ ۲۰۰ بستر این ولایت و ساختمان انتظارخانهٔ آن را تهداب‌گذاری کرد؛ درحالی که وزیر صحت عامه پنج ماه پیش از آن، از مرحلهٔ نخست ساخت و ساز شفاخانه ۲۰۰بستر کنر خبرداده بود. سال گذشته نیز رئیس‌جمهور غنی، سب استیشن گل‌بهار را هنگامی افتتاح کرد که این سب استیشن در حدود پنج ماه پیش از آن آغاز به کار کرده بود.

شماری از نامزدان انتخابات ریاست‌جمهوری، رئیس‌جمهور غنی را به استفاده از امکانات دولتی در کمپاین انتخاباتی پیش از وقت متهم می‌سازند.

این نامزدان می‌گویند که رئیس‌جمهور غنی برای پروژه‌هایی که ماه‌ها پیش گشایش یافته‌اند، بار دیگر مراسم گشایش برگزار می‌کند.

رحمت‌الله نبیل، نامزد انتخابات ریاست‌جمهوری گفت: «این پروژه سال قبل از طرف وزیر صاحب شهر سازی وقت افتتاح شده بود. این یک کار نو نیست، اما متأسفانه اینان فکر می‌کنند که مردم افغانستان نمی‌دانند که در این کشور چه می‌گذرد. من مطمین استم که مردم می‌دانند که چگونه با احساسات و عواطف شان بازی می‌شود و این جزء از ترفندهای انتخاباتی است».


SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019



Easy English Learning

+93 (0) 789 98 9696
Shigal English Academy
www.shigal.edu.af
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

## دریـځ

### د شپنیو عملیاتو هدف څه دی!؟

افغـان حکومـت او د سي ای اې قراردادیـان هـره شپه پـه کلـو او بانډو کې شپني عملیات کـوي. پـه دې عملیاتـو کـې وسـله والـو طالبانو تـه مـرګ ژوبلـه اوړي، خو تر طالبانـو ډېر ملکي وګـړي پکـې وژل کېـږي. یـوازې پـه یـوه اونـۍ کـې څـو داسـې پېښـې شـوې دي. پـه وردګـو کـې پـر روغتـون بریـد وشـو، څلـور کارکوونکـي یـې ووژل شـول. پـه بغـلان کـې پر یـوه کور برید وشـو چـې د یـوې کورنـۍ اووه غـړي یـې ووژل. وژل شـوي شـپږ ماشـومان او یوه یې مور وه. بیا یـې پـه وردګـو کـې شـپني عملیـات وکـړل، ۱۲ ملکـي وګـړي یـې ووژل. بیا یې پـه اروزګان کې د ښـځو او ماشـومانو پـه ګـډون د یـوې کورنـۍ شـپږ غـړي ووژل. دا یـوازې د پنځـو شـپږو تېـرو ورځـو پېښـې دي.

اوس اسـاسي پوښـتنه دا ده چې د دغو عملیاتو هـدف څـه دی او لـه امـن او ثبـات سره څـه مرسـته کوي؟

ښـایي دا بریدونـه پـه دې خاطـر توجیـه کـړل شي چې د وسـله والـو طالبانو مشران پکې وژل کېـږي. کېـدای شي کوم مشر پکې وژل شـوی وي، خـو حقیقـت دا دی چـې مهـم نظامـي قوماندانـان پکـې نـه دي وژل شـوي. کلـه چې یوه سـیمه پوره د طالبانو تر کنټرول لاندې وي، پـه نیمـه شـپه پـه الوتکـو کـې ځواکونـه ورشي، هلتـه ملکـي وګـړي، ښـځې او ماشـومان ووژني او بیـا تـرې را ووځـي؛ دا لـه وحشـت او جنایـت پرتـه بلـه څـه مانـا لـري؟ دا چـاره د امنیـت او ثبـات ضـد ګام دی او لـه دې پـرت بله هېڅ مانا نـه لـري. حتـی کـه پـه نیمه شـپه ځـي، طالبان وژني، بیـا هـم دا چـاره لـه ثبـات سره مرسـته نه کـوي، ځکـه امنیـت او ثبـات هغه وخت راتللی شي چې هدفمنـد عملیـات وشي. کـه عملیات داسـې وي چـې یـوه سـیمه یو مخ لـه مخالفینو خلاصـه شي، هلتـه باید امنیتـي ځواکونه ځای پـر ځـای شي، نو دا چاره له امنیت سره مرسـته کـوي. کـه پـه نیمـه شـپه ځواکونه یوې سـیمې تـه ورځـي او هلتـه طالبان وژني، خو نور سـیمه همغسـې د طالبانـو تـر کنټـرول لانـدې وي، دا لـه امنیـت او ثبات سره څه مرسـته کـوي!؟ که اسـتدلال دا وي چـې طالبـان وژل کېـږي، تـر فشـار لانـدې راځـي او کمـزوري کېـږي، نـو دا ناسـم اسـتدلال دی. طالبـان پـه وژلـو او بندي کولـو نـه خلاص شـول او نـه کم شـول، بلکې لا زیـات شـول. اوس که څلور طالبـان ووژل شي، لـس نـور طالبـان کېـږي. کـه بیا پـه عملیاتو کې ملکـي وګـړي ووژل شي، نـو طالبـان لا پیـاوړي کېـږي او خلـک لا زیـات له حکومت څخه لرې کېـږي.

دا شـپني عملیـات او ملکـي مـرګ ژوبلـه کـه د امنیـت او ثبـات پـه موخـه کېـږي، نـو واضح ده چـې دا چـاره لـه امـن او ثبـات سره مرسـته نـه کـوي، خـو کـه دا عملیـات یـوازې د وحشـت او وېـرې د ایجاد لپاره کېـږي، نو بیا بریالي دي او رښـتیا هم پـوره وحشـت او وېره یـې ایجاد کـړې ده، خـو امنیت او ثبات یـې نـه یـوازې خوندي کـړی نـه دی، بلکـې سـتونزې یـې ورتـه پیـدا کـړې دي. کـه رښـتیا د سـولې او ثبـات نیت او اراده وي، نـو پـکار ده چـې پـر دغـو عملیاتـو لـه سره غـور وشي او نـور ودرول شي.

# له واشنګټنه تر لندنه؛
## د پاکستان استخباراتي اداره څنګه د امریکا بهرنۍ پالیسي اغېزمنوي؟

لیکواله: کرېستېین فېر

کلـه چـې پاکسـتان د خپلـو موخـو د تـر لاسـه کولـو لپـاره مسـلکي لابېسـتان پیـدا نـه کـړي، بیـا پـه لوېدیځ پلازمېنـو کـې د غونـډو او کنفرانسـونو د اخـلال پـه موخـه لـه کرایـه شـویو شرارتیانـو کار اخلي.

څـو ورځـې وړانـدې زه پـه واشـنګټن کـې یـو بحـث تـه بلـل شـوې وم، د ټلوېزیـوني پروګـرام مسـوول ژمنـه کـړې وه چـې بحـث بـه د امریـکا او پاکسـتان د اړیکـو پـه اړه د رښـتیني انځـور پـه وړانـدې کولـو متمرکـز وي. معمـولاً پـه دغـه ډول بحثونـو کـې لـه ګـډون مخکـې زه د بحـث د نـورو ګډونوالـو پـه اړه پوښـتنه کـوم، خـو دا ځـل مـې فـرض کـړې وه چـې د بحـث د تنظیم مسـوولین او چارواکـي د بـاور وړ دي او هیلـه منـه وم چـې یـوازې د حقایقـو پـر بنسـټ بـه بحـث مخکـې ځـي، خـو کلـه چـې د بحـث خونـې تـه ننوتـم او د بحـث پـه دوو نـورو ګډونوالـو مـې سـترګې ولګېـدې، نـو سمدسـتي پښـېمانه شـوم. د بحـث لومـړی ګډونـوال متقاعـد امریکایـي ډیپلومـاټ و چـې لـه سـویلي اسیا سره یـې اوږدې اړیکـې درلـودې او لـه تقاعـد وروسـته پـه واشـنګټن کـې د پاکسـتان لپـاره پـر لابېسـت بـدل شـوی و. دویـم ګډونـوال یـو پاکسـتاني الاصلـه امریکایـي فزیـک پـوه و چـې دا هـم لابېسـت و او خپلـه ټولـه شـتمني یـې پـه دې لګولـه چـې څنګـه د ځینـو هېوادونـو پـه اړه پـه واشـنګټن کـې د سیاسـتوالو فکـر اغېزمـن کـړي. نومـوړي پـه واشـنګټن کـې د پاکسـتان پـه اړه د سیاسي تفکـر د اغېزمنولـو لپـار د پخـواني جـنرال پروېـز مـشرف پـه اسـتازیتوب کار کاوه. د بحث دواړو ګډونوالـو پر داسـې نقطـو ټینـګار کاوه چـې پـه تاریخـي توګـه ناسـم وو. ډاکټـر صیـب ټینـګار کاوه چې کشـمیر د پاکسـتان برخـه ده او ویـل یې چـې کشـمیر هڅـول شـوی نـه، بلکـې مجبـور کـړل شـوی و چـې د جغرافیـې او ډیموګرافیکـي انګېـزو پـر بنسـټ لـه هند یـا پاکسـتان سره ځـان وتـړي. دا خـبره پـه حقیقـت کـې بالـکل ناسـمه او بـې بنسـټه ده. نومـوړی پـه کشـمیر کـې د رېفرنـډم پـه اړه پـه خپـل احمقانـه دریـځ کلـک ولاړ و او زه یـې نـه پرېښـودم چـې د کشـمیر پـه اړه د ملګـرو ملتونـو د امنیـت شـورا قـرارداد تشریـح او واضح کـړم. د پروګـرام کوربـه هـم زه پـرې نـه ښـودم چـې پـه دې اړه د ځینـو حقایقـو سـپیناوی وکـړم. د بحث دوو ګډونوالـو د آی اېـس آی لـه البومـه خپلـې سیاسـي سـندرې غږولـې. هـر کـس چـې د سـویلي اسیا د سیاسـت پـه اړه پوهـاوی نـه لـري، داسـې فکـر بـه کـوي چـې ګونـدې مـا د خپلـو خـبرو پـر مهـال د ناسـمو مالوماتـو د خپرولـو هڅـه کولـه. لـه بحـث وروسـته مـې د خپرونـې پروډیوسر تـه ناخوښـي څرګنـده کـړه؛ ځکـه چـې د بحث لپـاره یـې پاکسـتاني لابېسـتان پـه خپلـه خوښـه ټاکلي وو، خـو نومـوړي اسـتدلال کاوه چـې هـر څـوک د حقایقـو خپلـه بڼـه لـري.

کلـه چـې لـه سـټوډیو ووتـم، نـو پـه ذهـن کـې مـې د بحـث د کیفیـت د ځرنګوالي پـه اړه پوښـتنې پیدا شـوې. کلـه مـې چـې د همدغـه پروګرام لـړۍ پـه مـاضي کـې تعقیـب کـړه، نـو پـوه شـوم چـې همـدا ښـاغلی پخـوا هـم د همدغـه ټلوېزیـون لـه لـوري د داسـې مختلفـو موضوعاتـو پـه اړه بحـث تـه را بلـل شـوی و چـې پـه اړه یـې کـره او مسـتند مالومـات او تجربـه نـه درلـوده، بلکـې یـوازې انتخـاب شـوې خـبرې یـې د بحـث پـر مهـال کـړې وې. زه دې پایلـې تـه ورسـېدم چـې دا بحـث د همدغـه ښـاغلي پـه وړاندیـز چمتـو شـوی و.

د لابېسـتانو همـدا کار وي، دوی تـل د لابـې کولـو لپاره د فرصت رامنځتـه کولو پـه لټـه کـې وي. کلـه چـې پاکسـتان د مسـلکي لابېسـتانو پـه پیـدا کولـو کـې پاتـې راشي، بیـا پـه مختلفـو پلازمېنـو کـې لـه احمقـو پاکسـتانیانو کار اخلي، څـو هغـه غونـډې او ناسـتې اخـلال کـړي چـې د پاکسـتان چټـل رول تـر بحـث او انتقـاد لانـدې نیسـي. څـو ورځـې وړانـدې پـه لنـدن کـې یـو علمي بحـث هغـه وخـت د یـو پاکسـتاني لـه لـوري لـه اخلال سره مخ شـو، چـې ما خپلـه وینـا پیـل کـړه. کلـه چـې نومـوړي زه تورنـه کـړم چـې لـه ښـځو څخـه کرکـه لـرم، نـو ټینـګار مـې وکـړ چـې یـاد کـس بایـد لـه تـالار نـه و ایسـتل شي. د بحث ډېـری ګډونـوال زمـا د خـبرو اورېـدو تـه راغلـي وو. مـا تـر هغـه خـبرې پیـل نـه کـړې څـو چـې امنیتـي مسـوولینو نومـوړی کـس لـه صحنـې و ایسـت. زه د نومـوړي کـس پـه دسیسـه پوهېـدم، تېـر کال همدغـه سـازمان زه د یـوه بحـث لپـاره مېلمـه کـړې وم، همدغـه احمـق هڅـه وکـړه چـې پروګـرام اخـلال کـړي، خـو د امنیتـي مسـوولینو لـه لـوري و ایسـتل شـو. کلـه چـې لـه صحنـې و ایسـتل شـو، مـا نـورو هېوادونـو تـه د پاکسـتاني ترورېـزم د صادرولـو پـه اړه خپـل پرېزنټېشـن وړانـدې کـړ. زه وروسـته خـبره شـوم چـې همـدې احمـق څـو ورځـې مخکـې د پښـتون ژغورنـې غورځنـګ د یـو مـشر خـبرې هـم لـه خنـډ سره مخ کـړې وې. زه لـه دې هـم خـبره شـوم چـې ځینـو کرایـه شـوو پاکسـتانیانو پـه دې وروسـتیو کـې هڅـه کـړې، څـو د هغـو بلوڅانو پر مخ تېـزاب وشـیندي چـې پـه انګلسـتان کـې د پاکسـتان د پـوځ او اسـتخباراتو جرمونـه نـړۍ تـه بربنـډوي. زمـا د شـخصي تجربـې او مشـاهدې لـه مخې، پـه لوېدیځـو پلازمېنـو کـې د پاکسـتان سـفارتونه پـه منظـم ډول داسـې کسـان ګومـاري چـې علمـي او سـتراتېژیک بحثونـه پـرې ګـډوډ کـړي. یـوې غونـډې تـه د حسـین حقـاني د وینـا پـر مهـال پـه واشـنګټن کـې د پاکسـتان سـفارت یـو درجـن مزاحمـت کوونکـي اسـتولي وو، څـو د حقـاني د خـبرو پـر مهـال شـور او غوغـا جـوړه کـړي.

کلـه چـې پاکسـتان پلـوه کسـان ونـه توانېـږي چـې د پاکسـتان پلـوه بحثونـو فرصـت رامنځتـه کـړي یـا د پاکسـتان ضـد بحثونـو مخـه ونیـسي، نـو بیـا د پاکسـتان پـوځ او اسـتخبارات د پاکسـتان ضـد څېـرو شـخصیت وژنـه پیـل کـړي. آی اېـس آی ځینـو کسـانو تـه د ژورنالېسـتانو جامـه ور اغونـدي او بیـا مسـوولیت ورکـوي چـې دروغ او پروپاګنـد خپـاره کـړي. هغـه کسـان ګواښـې چـې د پاکسـتان پـه اړه د حقایقـو راسـپړل غـواړي.

دا کـوم تصادف نه دی چې د واشـنګټن پـه څېړنیزو ادارو کـې ډېـر کـم داسـې کسـان مونـدل کېـږي چـې د پاکسـتان اسـتخباراتي او پوځـي ادارې تـر انتقـاد لانـدې نیـسي. د سټېمسـن د مرکز یـو لیکـوال مایـکل کرېپـن لـه کـوم سـوچ پرتـه د دروغـو د خپلـو مقالـو پـر بنسـټ، خلکـو تـه داسـې فکـر ورکـوي چـې هنـد او پاکسـتان د قضـاوت پـه یـوه تلـه وتـلي. نـور لیکـوالان لکـه دالـتن او جـورج پرکوېـچ پـه ۲۰۱٦ ز کال کـې د پاکسـتاني ترورېسـتانو لـه لـوري پـر هنـدي ځواکونـو لـه یرغـل وروسـته داسـې مقالـې لیکلـې وې چـې ګونـدې دواړه هېوادونـه د سـتونزې برخـه دي. دوی یـادو پېښـو تـه پـه غبرګـون کـې د لومـړي وزیـر مـودي د ځـواب د کمرنګـه کولـو هڅـه کـړې وه. د وېلسـن مرکـز مایـکل کروګمـن لـه هـر فرصـت څخـه پـه ګټـې اخیسـتنې، هڅـه کـوي چـې د پاکسـتاني دولـت د جرمونـو او ترورېسـتي کړنـو دفاع وکـړي. د منځنـي ختیـځ انسـټېټیوټ نـه یـوازې دا چـې زه، حسـین حقـاني او ښـاغلی پانـډې لـه خپلـو غونـډو او پروګرامونـو بنـد کـړي یـو، خـو داسـې ادعـاوې کـوي چـې د پاکسـتاني حکومـت ګټـې تامینـوي.

تـر ټولـو نـاوړه اداره هغـه دې چـې د امریـکا د عامـو خلکـو پـه پیسـو د پاکسـتاني دولـت د نـاوړه کړنـو دفـاع وکـړي. د بېلګـې پـه ډول، د امریـکا د سـولې انسـټېټیوټ. د یـو اېـس آی پـي مویـد یوسـف پـه ناتمامـه توګـه زمـوږ د امریـکا پـه پیسـو د پاکسـتان د ګټـو لپاره کار کـوي، لـه نومـوړي سره پـه دې کار کـې د بـوش د اداره یـو چارواکـی سـټیو هـډلي مرسـته کـوي. پاکسـتان څنګـه دا ډول کسـان تـر خپـل کنټـرول لانـدې سـاتي؟ د حیرانتیـا خـبره دا ده چـې پاکسـتان دا ډول تـش پـه نامـه ژورنالېسـتان او سیاسـي فعـالان پـه واشـنګټن کـې لـه پیسـو پرتـه ځـای پـر ځـای کـوي. څنګـه؟ دوی دا ډول کسـانو تـه د لابېګـرۍ پـه بـدل کـې د پاکسـتان وېـزې ورکـوي.

د ویـزو وږي تـش پـه نامـه اکاډمیـک او سیاسـي اشـخاص نـه یـوازې دا چـې د پاکسـتان د ګټـو پـر بنسـټ غونـډې جـوړوي، بلکـې پـه واشـنګټن کـې د پاکسـتان لـه سـفارته لارښـوونې هـم تـر لاسـه کـوي چـې دا ډول غونـډو تـه د پاکسـتان د منتقدینـو لـه ورتـګ څخـه مخنیـوی وکـړي. د امریـکا د مـلي دفـاع د پوهنتـون چارواکـو مـا او ځینـي نـورو ژورنالېسـتانو تـه ومنلـه چـې زه او حسـین حقـاني د پاکسـتان د سـفارت د غوښـتنې او ټینـګار پـر بنسـټ لـه یـادو غونـډو منعـه شـوی یـم. کلـه چـې د نېشـنل وار کالـج کـوم کـس دې لارښـوونې تـه پاملرنـه ونـه کـړي، نـو د پاکسـتان سـفارت امریکایـي چارواکـو تـه خپـل غـږ رسـوي. د پاکسـتان سـفارت هغـه مهـال د نېشـنل وار کالج تـه شـکایت وکـړ چـې یـوه شـول زه پـه افغانسـتان کـې د امریکایـي ګټـو د زیانمنولـو پـه برخـه کـې د پاکسـتان پـه رول خبرې کـوم. آیا دا پـه رښـتیا د امریـکا د نظامـي زده کـړو پوهنتـون دی؟ د امریـکا پـوځ او ملکـي پرسـونل هـره ورځ د پاکسـتاني جنګیالیـو لـه لـوري وژل کېـږي او امریـکا سرېېـره پـر دې هـم د پاکسـتان د سـفارت غوښـتنو تـه غـاړه ږدي.

سره لـه دې چـې زه لـه ډېـر پخـوا راهیسـې د پاکسـتان پـر اسـتخباراتي اداره نیوکـې کـوم، خـو پخـوا بـه مـا پاکسـتان تـه مسلسـل تـګ کاوه او پـه اسـانۍ مـې کولـی شـوی چـې لـه ملکـي او پوځـي چارواکـو سره ووینـم. پـه داسـې حـال کـې چـې مـا د پاکسـتان د پـوځ سـتاینه نـه کولـه، دوی مـا تـه د یـو ناپېیلـي لیکـوال پـه سـترګه کتـل. مګـر دا وضعیـت پـه ۲۰۱۱ ز کال کـې بـدل شـو. د آی اېـس آی یـو مامـور چـې پخـوا یـې لـه مـا سره ډېـره مرسـته کولـه، راتـه وویـل چـې زمـوږ اسـتخباراتي اداره پـس لـه دې لـه هغـو کسـانو سره مرسـته کـوي چـې پـه واشـنګټن کـې د پاکسـتان د ګټـو لپاره لابي وکـړي. پـه بـل عبـارت، هغـه آی اېـس آی پـس لـه دې لـه هغـو کسـانو سره مرسـته او همـکاري کـوي چـې د پاکسـتان سرینـدې تـه نڅـا وکـړي، خـو مـا لـه دې کاره انـکار وکـړ.

د امریـکا د ځینـو څېړنیزو او سـتراتېژیکو ادارو ځینـې کارکوونکـي پاکسـتان تـه د لاسرسي پـه بـدل کـې پـه خپـل درنـاوي او حیثیـت سـوداګري کـوي. زه لـه دوی پوښـتم چـې د یـوې پاکسـتانۍ وېـزې ارزښـت د تاسـې لپاره څومـره دی؟ د آی اېـس آی مـشر، د پـوځ مـشر او لـه نـورو پوځـي قوماندانانـو سره ستاسـې د یـوې لیدنـې ارزښـت څومـره دی؟ تاسـې د دغـه کار لپـاره د څـو کسـانو ژونـد پـه خطـر کـې اچـوئ؟ زه پوهېـږم، تاسـې چـې لـه دغـو کسـانو سره د ناسـتو پـر مهـال څـه لیکـی، ټـول دروغ دي. مـا پخـوا لـه دوی سره د ناسـتو پـر مهـال ډېـر دروغ پـه پاڼـو کـې نـوټ کـړي چـې اوس تـرې المـارۍ ډکـه ده. زمـا اسـاسي پوښـتنه دا ده چې تاسـې ولـې خپلـې ارواوې او فکرونـه پـه دې خلکـو خرڅـوئ؟ ښـایي تاسـې تـه دا مهمـه نـه وي چـې پاکسـتانی پـوځ او اسـتخبارات هـره ورځ نـه یـوازې افغانـان، هندیـان او پاکسـتانیان وژني، بلکـې تاسـې بایـد خپـل دیـد پراخـه کـړئ او ووینـئ چـې د پنـډۍ اجـرتي قاتلینـو پـه زرګونـو امریکایـان هـم وژلي. کـه تاسـې دا نـه وینـی، نـو هغـه سرې قالینـې چـې ستاسـې مخـې تـه غـوړول کېـږي، پـوه شـی چـې دا د هغـو زرګونـو انسـانانو پـه وینـه رنـګ دي چـې د پاکسـتاني ادارو لـه خـوا وژل شـوي. تاسـې د پاکسـتاني ادارو ننګـه او دفـاع د پیسـو لپـاره نـه، بلکـې د یـوې وېـزې لپـاره کـوی، خـو لـه پاکسـتاني جنرالانـو سره د ناسـتو جریـان د داسـتان پـه شـکل واشـنګټن تـه لـه سـتنېدو وروسـته، خپلـو ملګـرو او امریکایـي چارواکـو تـه بیـان کـړی.

# د ټاکنو په اړه د عبدالله خبرداری؛

## په راتلونکو ټاکنو کې د تېرو ناکامو تجربو تکرار فاجعه رامنځ ته کوي



د حکومت اجرایه رییس وايي، پـه راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو کې باید د تېرو تجربو د تکرار مخه ونیول شي. عبدالله عبدالله وايي، کـه د ولسمشرۍ پـه راتلونکو ټاکنو کې یوځل بیا د تېرو ټاکنو ناکامي تجربې تکرار شي، ستره فاجعه بـه رامنځ تـه او هېواد به د بحران خواته ولاړ شي. عبدالله چې پـه ټاکنو کې یې د ښځو د ګډون په اړه پرون دری ورځنـي سـمینار تـه خبرې کولې، پـه ټاکنو کې پر شفافیت ټینګار وکړ او وايي، حکومتي بنسټونه باید لـه دې پروسې خانونه لـرې وساتي او پکې مداخله ونـه کړي. د راتلونکو ټاکنـو د نـه شـفافیت او پـه وخت د نـه تر سره کېدو پـه تـړاو تر اندېښنو وروسته، د حکومت اجرایه رییس خبرداری ورکوي چې پـه راتلونکو ټاکنو کې دې د تېرو ټاکنو ناکامي تجربې نـه تکرارېږي.

عبدالله عبدالله چې په ټاکنو کې د ښځو د ګډون پـه تـړاو یوې غونډې تـه وینا کوله وویل، پـه راتلونکو ټاکنو کې دې هغه غیر قانوني کړنې هم نـه تکرارېږي چې د ولسي جرګې پـه ټاکنو کې تر سره شوې او دغه ټاکنې یې لـه ډېرو ستونزو سره مخ کړې.

نوموړي وايي، کـه پـه راتلونکو ټاکنو کې تېرې ستونزې تکرار شي، هېواد د بحران پـر لـوري ځـي او ښـایي فاجعه رامنځ تـه شي. نوموړي وايي: ((د ۲۰۱۴ کال د ټاکنو د ستونزو او تېروتنو تکرار بـه پـه هېواد کې یـوه سـتره فاجعه رامنځ تـه کړي. د دې فاجعې د زغملو تـوان بـه بیا د افغانستان خلـک ونـه لـري)).

عبدالله عبدالله وايي، حکومتي بنسټونه بایـد لـه دې پروسې لـرې وساتل شي، ځو د کمېسیونونو پـه چـارو کې لاسوهنه ونـه شي. نوموړي وايي، ټولي حکومتي اداري دي پـه ټاکنو کې پـه پراخه توګه ګډون وکړي، خو خبرداری ورکوي چې هیڅ حکومتي اداره حـق نـه لـري، چـې د یـوه مشخص نوماند په ګټه کار وکړي او یا يي هـم پـر ضـد تبلیغات تر سره کړي.

عبدالله زیاتوي:((هر څوک حـق لري چې د خپلي خوښې نوماند ته رایه ورکړي؛ خو ټولي حکومتي اداري بایـد لـه دې پروسې لرې وساتل شي. دوی باید د کمېسیونونو پـه چـارو کـې لاسوهنه و نه کړي. امنیتي، دفاعي او نور بنسټونه باید نه کوم نوماند تـه کمپاین وکړي او نـه هـم د کوم نوماند پـه تخریب لاس پـورې کړي)).

پـه ورتـه وخـت کـې د ټاکنو خپلواک کمېسیون رییسـه حـوا علـم نورسـتاني وايي، د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو لپاره چمتووالی لـري او پـر خپـل وخـت د ټاکنو پـه تـر سره کېدو ټینګار کوي. نوموړې وایي: ((کمېسیون راتلونکو ټاکنو ته بشپړ تیاری لـري، خـو د خلکو ملاتړ کولی شي دغه پروسه بریالـی کـړي. د خلکو همکاري کولی شي د شفافو ټاکنو زمینه برابره کړي)).

د حکومت اجرایه رییس عبدالله عبدالله پـه راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو کې د تېرو تجربو د تکرار د مخنیوي خبره داسې مهال کوي، چـې د ولسي جرګې پـه تېرو ټاکنو کې پراخې درغلی شوې دي او ان د ټاکنیزو کمېسیونونو ټول پخواني کمېشنران د فساد پـه تـور محکمې تـه معرفي شوي.

د تېرو ټاکنو ځینـې نوماندان لا هـم اعتراضونه کوي او پر ټاکنو نیوکي لري. دوی وايي چې پـه ټاکنو کې فساد شوی دی او د دوی حقوق تـر پښـو لاندې شـوي دي. بـل پلـو پـر ټاکنـو څارونکي بنسـټونه هـم د راتلونکو ټاکنو په اړه اندېښنـه ښـیي او وايي، د ټاکنو کمېسیون پـه چارو کې د ارتیـا وړ چټکتیا نشـته، نـو ښـایي راتلونکې ټاکنـې لـه سـتونزو سره مخ شي.

## وکیلان: د ولسي جرګې د کمېسیونونو د ریاست څوکۍ د ډالرو په مقابل کې پلورل کېږي

د ولسي جرګې غړي ادعا کوي چې د دې جرګې د کمېسیونونو ریاستونه پېر او پلورل کېږي او له همدې امله د کمېسیونونو د اداري پلاوو ټاکنې ځنډول شوي دي.

دا پـه داسـې حال کې ده چې د غوبې په ۲۸مه د ملي شورا له پرانیستې او تر ۷۰ ورځنی ځنډ وروسته د جنجالي ټاکنو په پایله کې میر رحمان رحماني د ولسي جرګې د رییس، امیرخان یار لومړی نایب، احمد شاه رمضان دویم نایب، کریم اتل منشي او عرفان الله عرفان د دې جرګې د نایب منشي په توګه وټاکل شول.

له هغه وروسته د دې جرګې رییس، مرستیال او د یوولسو دایمي کمېسیونونو منشیان ټاکل شوي، خو شپږ نور کمېسیونونه لا هم د خپل اداري پلاوي پر ټاکلو نه دي بریالي شوي.



د مخابراتو او مواصلاتو، ملي اقتصاد، د دیني او فرهنګي چارو، دفاعي چارو، روغتیا او بدني روزنې، عدلي او قضایي چارو، چاپېریال، د داخلي امنیت چارو، مالي او بودجې او د ښځو چارو ریاست کمېسیونونه توانېدلي چې خپل اداري پلاوي وټاکي، خو د کوچیانو، د شکایتونو د اوربدو، د وکیلانو خوندیتوب او امتیازونو، له نشه يي توکو سره د مبارزې، د نړیوالو او تقنیني چارو کمېسیونونو تر اوسه خپل اداري پلاوي نه دي ټاکلي.

د دې جرګې ځیني غړي د کوم چا له نوم اخیستو پرته ادعا کوي چې د کمېسیونونو د اداري پلاوي په ټاکنو کې د ریاست څوکۍ د ګټلو لپاره رایې پېر او پلورل کېږي او د دغه کار له امله یادې ټاکنې خو ورځې وخت نیسي.

په ولسي جرګه کې د کوچیانو استازي میرویس بلخي د ملي شورا په تالار کې وویل: «څوک چې پیسې لري، رییس کېږي. د مواصلاتو او مخابراتو په کمېسیون کې ان یوه رایه په ۳۰ زره ډالرو پېرل شوې ده».

په ولسي جرګه کې د کابل د خلکو استازي شینکی کروخېل هم ویلي: «له بده مرغه شایسته سالارۍ ته توجه نه کېږي، د رایي بیه نه ده راته معلومه او څوک دا جرئت هم نه شي کولای چې ماته پیسې راکړي او یا یې راته وړاندیز وکړي، له شواهدو ښکاري چې شتمنو کسانو څوکۍ تر لاسه کړې. د کمېسیونونو د رییسانو په ټاکنو کې معیار شتمني وه، نه لیاقت اوشایسته سالاري».

بلخوا په ولسي جرګه کې د خوست د خلکو استازي کمال ناصر اصولي د کوم کس له نوم اخیستو پرته ویلي: «د موجوده لبستونو له مخې، له ۲۰۰ ډېرو وکیلانو د اداري پلاوو او کمېسیونونو په ټاکنو کې خپلې رایې له ۱۰ تر ۲۰ زرو امریکایي ډالرو پلورلې دي».

## د بشري حقونو کمېسیون: د ملکیانو زیاتېدونکې مرګ ژوبله د جدي اندېښنې وړ ده

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون وايي، په هېواد کې د ملکي وګړو زیاتېدونکې مرګ ژوبله د جدي اندېښنې وړ ده.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د جګړې له زیاتوالي سره د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې کچه هم لوړه شوې ده.

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون ویلي، د روان ۲۰۱۹ ز کال په لومړیو پنځو میاشتو کې شاوخوا ۹۳۰ ولسي کسان وژل شوي او تر ۲۸۰۰ ټپیان دي.

د دغه کمېسیون اجرایوي رییس موسی محمودي ازادي راډیو ته ویلي: «د امریکا د دفاع وزارت او د بشري حقونو د کمېسیون شمېرو ته په کتو، ویلای شو چې په هېواد کې اوس هم ملکي مرګ ژوبله جریان لري او د بشري حقونو کمېسیون په دې اړه سخت اندېښمن دی، نو ملکي وګړو ته هر ډول زیان رسول، له بشري، اسلامي او د جګړې له اصولو سرغړونه ده او تاسې ګورئ چې د جګړې ښکېل اړخونه له بده



مرغه دې برخې ته جدي پاملرنه نه کوي».

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا دفاع وزارت د یکشنبې په ورځ کانګرس ته په خپل کلني راپور کې د ۲۰۱۹ ز کال د لومړیو پنځو میاشتو د ۹۵۰ ولسي وګړو د وژل کېدو او ۲۲۱۳ د ټپي کېدو خبر ورکړی دی.

د امریکا د دفاع وزارت د راپور په اساس، په دغه شمېر ملکي مرګ ژوبله کې ۸۰ سلنه مسوولیت یې د ترهګرو ډلو پر غاړه دی، ځکه د دوی په وینا، تر ډېره دغو کسانو ته د مخالفو وسله والو ډلو په بمي چاودنو او ځانمرګو بریدونو کې مرګ ژوبله اوښتې ده.

په راپور کې ویل شوي چې د ترهګرو ډلو په بریدونو کې ۷۷۸ ولسي افغانان وژل شوي او ۱۹۷۱ نور ټپیان شوي دي.

همدا شان په افغانستان کې د ناټو د غوڅ ملاتړ ماموریت د چارواکو په وینا، په تېرو پنځو میاشتو کې په افغانستان د مېشتو بهرنیو ځواکونو د عملیاتو له امله ۶۰ تنه ملکیان وژل شوي او ۵۵ نور ټپیان دي.

د دې ترڅنګ، د ۶۸ نورو ملکي افغانانو د وژنې او ۹۰ تنو د ټپي کېدو مسوولیت پر افغان امنیتي ځواکونو اچول شوی دی.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې په کابل او غزني ښارونو کې د وسله والو طالبانو د موټربم بریدونو له کبله لسګونو ولسي وګړو ته مرګ ژوبله واوښته.

په ورته وخت کې په بغلان او میدان وردګ ولایتونو کې د بهرنیو او افغان ځواکونو په عملیاتو کې هم لسګونو ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

## ټرمپ: ډیموکراټان دې پر حکومت د نیوکو پر ځای، خپل هېوادونه جوړ کړي

د متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ د دغه هېواد د کانګرس ډیموکراټ ګوند ښځینه غړیو ته ویلي چې د امریکا پر حکومت د نیوکې پر ځای دې بېرته خپلو ملکونو ته لاړې شي او هغه دې جوړ کړي.

ټرمپ په یوه ټویټ کې لیکلي: «ډېره جالبه ده چې دوېره روښانفکره ډیموکراټانې، چې له داسې هېوادونو نه دلته راغلي چې حکومتونه یې مکمل او ښخي ویجاړوونکي دي، په بې شرمۍ سره امریکایانو ته وايي چې حکومت څنګه وچلوي».

خو د کانګرس ډیموکراټو غړیو د ولسمشر ټرمپ دغه خبره له تعصب او حیرانتیا ډکه وګڼه بللې ده.

که څه هم ولسمشر ټرمپ په ښکاره توګه د چا نوم نه دی اخیستی، خو داسې ښکاري چې د هغه موخه به د نیویارک ایالت استازې اوکاسیو کرتیز، د مني سوټا ایالت استازې الهان عمر او د میشګن ایالت استازې رشیده طیب وي.

د دغو دریو ایالتونو د استازو او ډیموکراټو مېرمنو ډله، وخت ناوخت پر ولسمشر ټرمپ تونده نیوکې کوي.

الهان عمر د کانګرس هغه یوازینۍ غړې ده چې په سومالیا کې زېږېدلي او په ۱۹۹۷ ز کال کې یې امریکا ته مهاجرت کړی دی.

بلخوا اوکاسیو کرتیز د ولسمشر ټرمپ د ځرګندونو په ځواب کې ویلي: «ولسمشر ټرمپ! زه امریکایې یم او امریکا ته مې لوړه کړې ده. ته غوسه یې؛ ځکه ته داسې امریکا نه شې زغملی چې مونږ پکې شامل یو. ته د خپلې غلطې لپاره پر یوه وېرېدلې امریکا تکیه لرې».



بلخوا د امریکا د کانګرس رییسې نانسي پلوسې هم د ولسمشر ټرمپ دغه ځرګندونې غندلې او هغه یې متعصب بللی دی.

دا لومړی ځل نه دی چې د ولسمشر ټرمپ او کانګرس ترمنځ خبرې ناندریزې کېږي، بلکي تر دې وړاندې هم سپیني ماڼۍ او کانګرس پر یو بل تورونه او تونده نیوکې کړې دي.


## د کتاب خبرې

# پښتانه

## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق
◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

### لومړی څپرکی
### د یوویشتمې پېړۍ پښتانه




ویجاړ هېواد
په ۲۰۱۰ز کال ۱۵۰۰۰۰ ناټو ځواکونه تر ډېره د افغانستان پر ختیځو، سویل ختیځو او سویلي سیمو کې مېشت وو. په ورته شمېر پاکستاني سرتېري د پاکستان په شمال لوېدیځ ولایت خیبر پښتونخوا، فاټا او د بلوچستان ولایت په شمالي ولسوالیو کې مېشت شول. د ډیورنډ کرښې په څنډه کې دا ټولې پښتنې سیمې دي.
د هندوکش د دنګو غرونو په منځ کې د ښکلي کابل ښار وروسته له هغه بدله شوې چې امریکایان له میلیونونو ډالرو بهرنیو مرستو سره پکې مېشت شوي. په ۱۹۷۰ز لسیزه کې د دې ښار د اوسېدونکو شمېر ۴۰۰۰۰۰ ته رسېده، لوی سړکونه، د اوسېدو دنګې ودانۍ، پخواني جوړ بازارونه د طالبانو له ماتې ۲۰۰۱ز کال وروسته بدل شوي. د ټرافیکي ګڼې ګوڼې له کبله د سړکونو بندښت او چټله هوا د نفوسو د زیاتوالي له کبله ده. ښکلې هټۍ، هوټلونه، د اوسېدو اپارتمانونه او رسټورانټونه ډېر تر سترګو کېږي. دولتي ودانۍ، بهرني سفارتونه او د نړیوالو سازمانونو دفترونه د دنګو امنیتي دېوالونو او امنیتي پوستو ترشا فعالیت کوي.
کابل له تېرو دوو پېړیو راهیسې د افغانانو د سیاسي ډرامو دریځ ګرځېدلی. په تېرو څلورو لسیزو کې دلته سپینې او خونړۍ کودتاګانې هم وشوې. د طالبانو له ماتې وروسته کابل کې نوی حکومت جوړ شوی. هلته د دولت درې ګوني ځواکونه، مجریه، قضایه او مقننه ځواکونه په ارګ، وزارتونو، پارلمان او قضایه کې فعالیت کوي. له دنګو ودانیو جوړولو پرته د دولت دا قوې خلکو ته په ښه خدمت کولو کې پاتې راغلې دي، هغوی افغانانو ته د ښې راتلونکې ډاډ نه دی ورکړی.
کابل له مشرقي سره نښتی دی، مشرقي د لوی ننګرهار په نوم هم یادېږي چې ننګرهار، کنړ، لغمان او نورستان ولایتونه پکې شامل دي، دلته تر ډېره غلجي او کرلاڼي پښتانه مېشت دي. جلال اباد د ننګرهار مرکز دی چې په ټوله کې د زون په کچه ننګرهار مرکزي ولایت ګڼل کېږي. وروسته له هغه چې لومړی سکان او بیا برېټانویان له پېښوره ووتل، د جلال اباد دره د نولسمې پېړۍ له نیمایي د افغانستان د ژمني موسم پلازمېنه وه.
د خیبر پښتونخوا له تورخم سره نښتی جلال اباد ښار د سویلي او مرکزي اسیا د ښښلولو لپاره اړین ټکی دی. په ۱۹۸۰ز لسیزه کې د روسانو پر وړاندې د جهاد پر مهال دا سیمه د جګړې لومړۍ کرښه وه. په دې سیمه کې شنو ځنګلونو د روسانو پر وړاندې د جګړې ښه بستر جوړ کړی و. د دې سیمې د خلکو سواد هغوی ته په دولتي ادارو کې د روسانو له یرغل وړاندې (۱۹۷۹ز کال) ښه زمینه برابره کړې وه.
توره بوړه د سپین غره یوه برخه او د جلال اباد ښار په سویل کې ده، د ۲۰۰۱ز کال په وروستیو کې یاده سیمه د امریکایي ځواکونو تر سختو هوایي بریدونو لاندې شوه، دوی فکر کاوه چې د القاعدې مشر اسامه بن لادن په همدې ځای کې پټ و. له ۲۰۰۱ز کال را وروسته په لوی ننګرهار کې دواړو (جګړو او اقتصادي پیاوړتیا) زور اخیستی دی. په دې ولایتونو کې حزب اسلامي او نورې سلفي ډلې په جګړه بوختې وې، ویل کېږي چې په دې ولایتونو کې جګړه د سویل ختیځو او سویلي ولایتونو په پرتله کمه وه.
«سپین غر» لوی ننګرهار له لویې پکتیا بېلوي. د وروستیو لیکنو په استناد لویه پکتیا د خوست، پکتیا او پکتیکا سیمې جوړوي، خو له قومي جوړښتونو ښکاري چې لوګر، غزني او وردګ ولایتونه هم په دې زون کې راځي. په دې سیمه کې لا پښتني دودیز اصول ژوندي دي، دلته ځدراڼ، منګل، ځاځي او تڼي، وزیر او مقبل قومونه مېشت دي. په دې سیمه کې غلجي قومونه، سلېمانخېل او احمدزي قومونه هم اوسېږي. د رسمي پوځ د نه موجودیت له کبله لویې پکتیا د شلمې پېړۍ په دوهمه نیمایي کې د خلکو له لوري ځایي پوځ جوړ کړی و چې د وخت په تېرېدو سره بیا حکومت رسمي پوځ جوړ کړ. په ۱۹۲۹ز کال د لویې پکتیا قومونو د درانیو د واک پر دوام سره لوی رول لاره او محمد نادرشاه یې چې د جلا وطن شوي امیر امان الله خان تربور و، واک ته ورساوه. امیر امان الله خان چې د پراخو اصلاحاتو پلانونه یې لرل، د تاجک جنګیالي حبیب الله کلکاني له لوري چې د یوه محافظه کار ملا ملاتړ ورسره و، د یوې پرلپسې بلوا په ترځ کې له دندې لیرې شو. نادرخان یو قومي لښکر جوړ کړ چې پکې تر ډېره د لویې پکتیا او د ډیورنډ کرښې دواړو غاړو ته له پرتو وزیرو څخه جوړ و.
دا لښکر وتوانېد چې کلکانی له واک وغورځوي او نادرخان واک ته ورسوي. د هغه له لومړنیو کړنو هم یوه دا وه چې قومونو ته یې یو لړ حقوق ځانګړي کړل، هغوی له مالیې ورکولو او عسکري خدمت وبښل شول، خو پر دې شرط چې د اړتیا پر مهال به بیا قومي لښکر حاضروي.
په شلمه پېړۍ کې پکتیا قومونو له هغو کسانو سره سره چې د پاکستان پر قبایلي سیمو کې مېشت وو د افغانستان پوځ ته ډېر کسان ورکړل. له دې قومونو یې ډېری کسان د روسانو له لوري وروزل شول او له افغان کمونېستي ډلو سره یو ځای شول.
د ځدراڼو یو عالم، جلال الدین حقاني ته د پاکستاني پوځ او بډایه شخصي عرب بسپنه ورکوونکو پاملرنه واوښته، ځکه هغه د شوروي د سره پوځ پر وړاندې سرسخته جګړه کوله. هغه په جګړه کې ځانګړی نوم لاره، هغه وخت یې شهرت لا هم پسې ډېر شو چې کله یې په ۱۹۸۷ز کال د خوست او ګردېز د سړک د پاکولو د عملیاتو پر وړاندې سخته جګړه وکړه. دا عملیات په تېرو نهو کلونو کې د روسانو د ځمکنۍ جګړې تر ټولو لوی او بې ساري عملیات وو. خوست لومړنی ښار و چې په ۱۹۹۱ز کال د حقاني تر مشرۍ لاندې د مجاهدینو لاس ته ولوېد. حقاني په ۱۹۹۵ز کال له طالبانو سره یو ځای شو او د ۱۹۹۶ز کال په سپټمبر کې یې له طالبانو سره کابل ته په ننوتلو کې هم همکاري وکړه.
**دوام لري...**

# نېکولاس مادورو

جواد تیموري



د وینزویلا اوسنی ولسمشر نېکولاس مادورو په ۱۹۶۲ ز کال کې د دغه هېواد په پلازمېنه کاراکاس کې په یوه کارګره کورنۍ کې زیږېدلی دی. نوموړی د دغه هېواد د پخواني ولسمشر هوګو چاوېز له مړینې وروسته د وینزویلا موقت مشر وټاکل شو. مادورو له ۲۰۰۶ تر ۲۰۱۳ ز کلونو پورې د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزیر او له ۲۰۱۲ تر ۲۰۱۳ ز کال پورې د جمهور رییس چاوېز لومړی مرستیال و، خو په ۲۰۱۳ ز کال کې د دغه هېواد په ټاکنو کې د ۵۱ سنله رایو په ګټلو سره، د یاد هېواد د ولسمشر په توګه وټاکل شو.
نوموړی په کوچنیوالي کې موټړوان و، له هغه وروسته د سوداګرو د ټولنې مشر شو او بالاخره په ۲۰۰۰ ز کال کې د وینزویلا د قانون جوړونې د ملي کنګرې غړی شو.
که څه هم د هغه مور او پلار یهودان وو، خو نوموړي په وروستیو کې د کاتولیک عیسیوي دین قبول کړ. نېکولاس مادورو دوه وادونه کړي او یو ماشوم هم لري.
نوموړي په وینزویلا کې ښوونځی پیل کړ، خو په درسونو کې ډېر کمزوری و او له همدې کبله ویل کېږي چې له ښوونځي نه دی فارغ شوی او همدا ډول هېڅ ډول لوړې زده کړې نه لري.
مادورو په لومړیو کې موټړوان و، خو هغه وخت چې نوموړی د ښوونځي زده کوونکی شو، نو فکر یې کمونیستي شو او د زده کوونکو په ټولنه کې له غړیتوب وروسته یې یو څه سیاسي فعالیتونه پیل کړل. هغه وخت چې نېکولاس مادورو بس چلوونکی و، نو د بس چلوونکو ټولنې مسوولیت یې واخیست او په دې ډول سره یې د کارګرې طبقې د یوې برخې لپاره مبارزه پیل کړه.
په ۲۴ کلنۍ کې د سویلي امریکا کمونیستې هېواد کیوبا ته لاړ او هلته یې د یو کال لپاره سیاسي زده کړې وکړې. دغه راز په ۱۹۹۸ز کال کې یې د (پنځم جمهوریت) په نوم سیاسي ډله جوړه کړه او په واک کې له ولسمشر هوګو چاوېز څخه یې ملاتړ کاوه.
نوموړی د وینزویلا د پارلمان په ټاکنو کې نوماند شو او له ۲۰۰۰ تر ۲۰۰۶ ز کلونو پورې د ولسي جرګې غړی او یو کال د جرګې مشر و.
نوموړی د ولسي جرګې له وکالت او مشرۍ څخه وروسته، په ۲۰۰۶ ز کال کې د وینزویلا د بهرنیو چارو وزیر په توګه دنده پیل کړه.
مادورو د وینزویلا پخواني ولسمشر هوګو چاوېز ته ډېر نږدې کس و، نو له همدې کبله یې په ۲۰۱۱ ز کال کې خپل لومړی مرستیال کړ.
کله چې په ۲۰۱۲ ز کال کې هوګو چاوېز اعلان وکړ چې پر سرطاني ناورغۍ اخته دی، نو د خپلې ناروغۍ د درملنې په پار کیوبا ته لاړ او د هېواد چارې یې نېکولاس مادورو ته پرېښودې.
په ۲۰۱۳ ز کال کې په وینزویلا کې ولسمشریزې ټاکنې وشوې او په پایله کې یې نېکولاس مادورو د ولسمشر په توګه وټاکل شو. د مادورو او د هغه د سیال نوماند د رایو ترمنځ یوازې ۱،۵ سلنه توپیر او همدا توپیر د دې لامل شو چې د وینزویلا سیاسي ثبات یې د کړکېچ پر لور کش کړ.
نېکولاس مادورو په وینزویلا کې ډېر اصلاحي پروګرامونه پیل کړل او تر یو بریده پکې بریالی هم شو. نوموړی د امریکا په ګډون، د لوېدیځو هېوادونو د سیاستونو سرسخت مخالف دی او له همدې کبله په کور دننه ورته سیاسي ناخوالې رامنځته شوې دي.
نېکولاس مادورو د هوګو چاوېز پر لار روان سړی دی. چاوېز په وینزویلا او فېډل کاسټرو په کیوبا کې یوازیني کمونېست مشران وو چې له لوېدیځې نړۍ سره یې اړیکې ترینګلې وې.
پر وینزویلا نړیوال بندیزونه او په ځانګړي ډول د لوېدیځو هېوادونو فشارونه، بېوزلي او د ژوند د کچې ټیټېدل هغه لاملونه وو چې په ۲۰۱۴ ز کال کې د دغه هېواد ځینو مخالفینو ته یې موکه په لاس ورکړه، چې د مادورو د حکومت پر وړاندې لاریونونه پیل کړي. د نوموړي د حکومت پر وړاندې لاریونونو هغه مهال زور واخیست، کله چې د دغه هېواد په پلازمېنه او ځینو نورو ښارونو کې د لاریون کوونکو او پولیسو ترمنځ نښتې پیل شوې او لاریون پر تاوتریخوالي واوښت.
د نیویارک ټایمز امریکایي ورځپاڼې په حواله: «د مادورو حکومت خپل مخالفین په داسې حال کې په ډېرې بې رحمۍ سره وځپل، چې دوی په هېواد کې د روانو ناخوالو او بې عدالتیو پر وړاندې ودرېدل».
د مادورو د حکومت پر وړاندې لاریونونه او مخالفتونه روان وو، چې په ۲۰۱۸ ز کال کې د دغه هېواد د ولسمشریزو ټاکنو وخت راورسېد. نیویارک ټایمز لیکي: «کله چې په ۲۰۱۸ ز کال په وینزویلا کې د ولسمشریزو ټاکنو وخت راورسېد، دغه مهال د حکومت ډېری سرسخته مخالفین د مادورو له خوا په زندانونو کې اچول شوي وو، ځینې نور یا له هېواده تبعید شوي وو او یا دغه هېواد ته په ټاکنو کې د نوماند کېدو لپاره اجازه ورنه کړل شوه. له بلې خوا د دغه هېواد یادې ټاکنې د ملګرو ملتونو په ګډون، د ځینو نړیوالو بنسټونو له خوا هم په رسمیت ونه پېژندل شوې».
مادورو د ۲۰۱۸ ز کال په ټاکنو کې یو ځل بیا وتوانېد چې د دغه هېواد ولسمشري تر لاسه کړي. کله چې نوموړي په ۲۰۱۸ ز کال کې ځان د دغه هېواد د ولسمشر په توګه اعلان کړ او لوړه یې وکړه، ورسره سم په دغه هېواد کې قهرجن لاریون کوونکي د پلازمېنې کاراکاس په ګډون، د دغه هېواد په ډېرو ښارونو کې لارو او کوڅو ته راووتل او د نوموړي پر ضد یې شعارونه ورکول.
مادورو له ولسمشرۍ وړاندې هم کله چې د هوګوچاویز په حکومت کې یې په بېلابېلو بستونو کار کاوه، په یو سر زوري مامور مشهور و. هغه به تر ډېره په حکومتي کچه لوی تصمیمونه هم له مشرانو سره تر مشورو پرته نیول. هغه د خپل ماموریت په دوران کې چې د وینزویلا د بهرنیو چارو وزیر و، د منځنۍ ختیځ په سیاستونو کې هم ونډه درلوده، هغه د لیبیا د پخواني ولسمشر معمرالقذافي، چې لوېدیځ هېوادونه یې مخالف وو، کلک ملاتړ کاوه. دغه راز یې د غزې د جنګ په دوران کې له اسرایلو سره خپلې ډیپلوماټیکې اړیکې قطعه کړې او له فلسطینیانو څخه یې خپل ملاتړ څرګند کړ. نوموړي د دې ترځنګ، په ۲۰۰۸ او ۲۰۱۰ ز کلونو کې په کولمبیا کې د بدلونونو په راتلو سره، له دغه هېواد سره په اړیکو کې ژور بدلونونه راوستل. هغه د سوریې په اوږده جګړه کې تر دې مهاله د ولسمشر بشارالاسد ملاتړی پاتې شوی دی.
له دې ټولو سره سره، په وینزویلا کې سیاسي کړکېچ د بل هر وخت په پرتله اوج ته رسېدلی دی. د ۲۰۱۸ ز کال له ټاکنو وروسته کله چې په دغه هېواد کې لاریونونه پیل شوي، د یاد هېواد د پارلمان مشر خواندګوایدو چې د حکومت پر وړاندې د روانو لاریونونو او مخالفتونو مشري کوي، ځان د دغه هېواد د موازي حکومت د مشر په توګه اعلان کړ. تر دغه اعلان وروسته د امریکا په ګډون ځینو لوېدیځو هېوادونو لکه فرانسې، انګلستان، جرمني او نورو، خوان ګوایدو د دغه هېواد د ولسمشر په توګه په رسمیت هم پېژندلی دی.
خو بل پلو د روسیې په ګډون، چین، ایران، ترکیې او ځینو نورو هېوادونو له مادورو څخه خپل ملاتړ اعلان کړی دی او وایي چې نوموړی د دغه هېواد قانوني مشر او پر مخالفینو یې هم بیا بیا غږ کړی چې هلته روان کړکېچ د خبرو له لارې حل کړي.
اوسمهال نېکولاس مادورو له امریکا، کاناډا، برېټانیا او د سویلي امریکا له ځینو هېوادونو سره خرابې سیاسي اړیکې لري او د امریکا له متحده ایالتونو سره یې خپلې اړیکې پرې کړې دي.

همیانی

# څنګه خپل ځان وبښو، څو یو ښه انسان شو؟

ژباړه: امان الله «حنیفي»

ځنګه دې ځای ته راورسېدم؟ څنګه داسې ممکنه ده چې زه د یو داسې بد انسان شم؟ دا او دېته ورته ځینې پوښتنې له ډېرو کسانو سره په ذهن کې وي. موږ ټول د تېروتنو قرباني شوي یو او ډېرې مو داسې پرېکړې او تصمیمونه نیولي، چې له امله مو یې درنه بیه پرې کړې ده. ځان بښل په همدې مانا دي، چې موږ د هغو ناسمو تصمیمونو او پرېکړو په بدل کې چې کړې مو دي او نن تر ځوربړو؛ خپل ځان وبښو. موږ په همدې مقاله کې درته وایو، ولې ځان بښل مهم دي او څنګه کولای شو ځان له عذاب وجدان څخه خلاص کړو او د یو ښه انسان په صفت ژوند وکړو.

ژوند هر وخت د سړي په خوښه مخکې نه ځي. ډېرې کارونه او کړنې چې موږ یې کوو، اصلي محرک یې موږ خپله نه یو، ډېر وخت یې تر شا یو بل مجبوریت پټ وي چې موږ یې کولو ته اړ کوي. دا یوازې موږ نه یو چې د دې چارې قرباني شوي یو، دا چاره له ټولو خلکو سره کېږي. په هر حال، د نورو بښل معمولاً د ځان تر بښلو اسانه دي. کېدای شي موږ هغومره چې د ځان په اړه سخت دریځ غوره کوو، د نورو په اړه یې غوره نه کړو. خو په یاد ساتئ! هرڅه د درمل وړ دي. ځان هم بښل کېږي او د نورو تر بښلو زموږ په ژوند کې حیاتي ارزښت لري.

د څېړونکو په خبره، د ځان بښل ذهني فشار کموي. ځان بښل، رواني ناروغۍ او اختلالات لکه افسردګي او اظطراب له منځه وړي. ځینې وخت موږ له سختو دردونو او ستونزو سره مخ کېږو؛ خو دا بیا بې ګټې ده چې موږ د دغو ستونزو له امله ځان ته عذاب ورکړو. دا ستونزې چې پایلې یې موږ دې حد ته رسوي، ډېر وخت دومره لویې او جدي نه وي.

همدا چې خپلې تېروتنې نه هېروو، همدا مو د درد او رنځ لامل دی. هغه تېروتنې چې ممکن ناخوداګاه هم نه وي، کېدای شي په اړه یې موږ داسې فکر وکړو چې ولې مو داسې پرېکړه کړې ده او وضعیت مو تر دې حده ځان ته سخت کړی دی. باید پوه شو چې له ځان څخه بېزاري، هېڅ ګټه نه لري، داسې چې په بدل کې یې بیا ځان بښل ډېره ګټه او له ځان سره ارامي لري. د ځان بښلو په اړه لومړۍ پوښتنه دا ده چې له ځانه وپوښتو: ولې مو تېروتنه کړې ده؟

تېروتنه او ناسمې پرېکړې کول، له دې سره چې څوک یاستی او کولای شی پر کوم کس بدل شی، کومه اړیکه نه لري. تېروتنې کول مو باید له هغه ارزښت څخه چې ځان ته پرې قایل یاستی، لرې نه کړي. موږ انسانان یو، هر انسان تېروتنه کوي، موږ د بېلابېلو دلایلو په واسطه ډېرې کارونه کوو. اصلي خبره د کار کولو د علت پیدا کول دي. د همدغه دلیل په پیدا کولو سره کولای شو پوه شو چې څنګه دغه حالت ته راورسېدم او کولای شو د همدغې لارې د تې کولو پر مهال تصمیم بدل کړو.

ځینې وختونه د خپلې غوسې او قهر د منلو له امله، زموږ دوستانو او ملګرو ته زموږ غوسه او قهر لا ډېر ښکاره کېږي. دا کار کېدای شي په موږ پورې د ډېرو اړوندو حقایقو د څرګندتیا لامل شي او زموږ لپاره مهمې پایلې ولري. کله چې دا منو چې موږ کامل انسانان نه یو، هغه ده چې نور له موږ سره ډېرې ارامه اړیکې ټینګوي او زموږ په اړه د یو قوي انسان تصور کوي.

ځینې وخت یوازې یو معذرت غوښتل هم ستاسې پر ځواکمنتیا دلالت کوي. (ښښنه غواړم، کوښښ کوم چې بیا یې جبران کړم) همدا تر ټولو ښه پیل دی. دا د دې مانا نه ورکوي چې هرڅه د پوره او بې عیبه وي؛ خو د دې ښکارندویي کوي چې کولای شم او غواړم چې هرڅه ترمیم او بیا یې جوړ کړم.



په ستونزو کې استقامت، مانا دا چې موږ د نورو او ځان په مقابل کې ځان ښوودنه نه کوو، چې هرڅه سم دي؛ مانا دا چې موږ د هرې ستونزې حل ته ژمن یو، ورو ورو هرڅه درمان کوو او بالاخره ارام ته رسېږو. د ځان بښلو لپاره اصلي خبره د تېر وخت هېرول دي. د تېر وخت هېرول مانا دا چې موږ ځان د هغه څه په اړه چې نه پوهېږو او هغه چې باید یا نباید مو کړې وی، وبښو.

پر دې لاره باید خپلې تېروتنې مشخصې کړو، داسې پرېکړه وکړو چې نورې شوې تېروتنې تکرار نه کړو او د شوو پرېکړو ټول مسوولیت پر خپله غاړه واخلو. هېڅ وخت باید ځان تحقیر او سپک ونه ګڼو. دا مهارت لاسته راوړل یوڅه سخت دي، خو د وخت په تېرېدو سره لاسته راوړل کېږي. دا سختي منل، پر هرڅه ارزي؛ ځکه پایله یې زموږ ارامي او خوشالي ده.

ځینې وخت ځان بښل د غم پر ځای د خوښۍ پیدا کولو په مانا هم کارول کېږي. د تېر وخت په هېرولو سره کولای شو د ژوند کولو چل زده کړو. ځینې وخت غم او اندېښنې طبیعي هم وي، طبیعي ځکه ورته وایو چې د پېښېدو علت یې زموږ په کنټرول کې نه وي. لکه د باران د ډېر اورېدو له امله د سیلاب راوتل او له امله یې زموږ د کور ځینې برخې زیانمنېدل.

سمه ده چې موږ به دا وخت خپه وو؛ خو په خپګان سره به څه وکړو؟ هېڅ هم نه. دا وخت د اندېښنې او خپګان پر ځای د هغه په بیارغولو لاس پورې کړئ.

اوس اصلي پوښتنه دا ده چې څنګه موږ ځان وبښو؟

ځواب یې ډېر اسانه دی، مهربان اوسئ او د شوې تېروتنې له امله ځان بښل و ازمویئ. ځان ته د عزت په سترګه وګورئ، په کوټه کې ځوړندې اینې ته مخامخ ودرېږئ، وېښتان مو سم کړئ، اوږې مو وغورځوئ، غاښونه مو پرېمنځئ او بالاخره ځان داسې جوړ کړئ څنګه چې مو خوښېږي. دا د ځان بښلو لپاره تر ټولو ښه پیل او اسانه لار ده. ځان بښل؛ له ځان سره مینه زیاتوي او له ځان سره مینه هغه څه دي چې هر ژوندی مخلوق ورته اړتیا لري.

د ځان بښلو په پار هېڅ وخت ځان له نورو سره مه پرتله کوئ، له نورو سره پرتله مو وژني. کله چې داسې فکر درته پیدا کېږي، هغه وخت تر ځان د ښه موقف واله خلکو پر ځای، ځان تر ځان له غریبو او په سختو شرایطو کې راګیر کسانو سره پرتله کړئ. کله چې تر ځان غریب او په ستونزو کې راګیر کسا ووینی، پر ځان به شکر وباسی او همدا شکر ایستل مو له ځان سره ورځ تر بلې مینه زیاتوي.

د ځان بښلو بله ښه لار دا ده چې په یو وار له ځان څخه د ډېر کار کولو تمه ونه کړی. پوهېږی، ډېرې کسان له ځان څخه په کم وخت کې د ډېر پرمختګ او کار کولو تمه کوي، کله چې ورته ونه رسېږي، بیا خپه وي او ځان یو ډول نیمګړی او ناکاره ورته ښکاري. د ځان په اړه د ناکاره صفت د صدق احساس، د عذاب وجدان کندې ته ځان ور اچول دي. د ځاب بښلو لپاره په لومړیو کې د ډېر کار تمه مه کوئ، لږ لږ، خو په دقت کار وکړئ او د کار په اخر کې ځان ته یوه ډالۍ ورکړئ. دا کار مو ورځ تر بلې له ځان سره مینه زیاتوي او بالاخره خوښ ژوند ته رسېږی.

## ټاکنو خپلواک کمېسیون: د ولسمشریزو ټاکنو ۱۸ نوماندانو له دغه کمېسیونه باورلیکونه تر لاسه کړي

په داسې حال کې چې راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو ته نږدې دوې میاشتې پاتې دي، د ټاکنو خپلواک کمېسیون د ولسمشریزو ټاکنو ۱۸ نوماندانو ته باورلیکونه ورکړي دي.

د دغه کمېسیون چارواکي وایي، د ټاکنو د بودجې د چمتو کېدو ترڅنګ، د دغه بهیر عملیاتي چارې له مهالوېش سره سمې رواني دي.

د باورلیکونو د ورکړې په مراسمو کې څو نوماندانو لکه محمد اشرف غني، عبدالله عبدالله، محمدحنیف اتمر او ګلبدین حکمتیار ګډون نه و کړی چې په ځای یې مرستیالان یا استازي کمېسیون ته ورغلي وو.

کمېسیون ته د دغو څېرو نه ورتګ د نورو ټاکنیزو ټیمونو غبرګون راپارولی، خو چارواکي وایي، د دوی په تصویب شوي تګلاره کې دا راغلي چې د نوماند استازی کولای شي د خپل نوماند باورلیک تر لاسه کړي. بلخوا د ټاکنو خپلواک کمېسیون د حکومت او مرستندویه هېوادونو له خوا د بودجې د چمتو کېدو د هرکلي تر څنګ وایي، د ټاکنو ټوله بودجه څه باندې ۱۴۹ میلیون ډالره ده چې څه باندې ۹۰ میلیون ډالر یې د افغان حکومت او پاتې برخه یې د مرستندویه هېوادونو له خوا چمتو شوې ده.

په تېرو څو ټاکنو کې دا لومړی ځل دی چې افغان حکومت د دغه بهیر له نیمایي زیات مالي لګښت پر غاړه اخلي.

د ټاکنو کمېسیون د ویاند مرستیال ذبیح الله سادات له بي بي سي سره په خبرو کې د ټاکنیزو تیاریو خبره کړې او ویلي یې دي چې د بودجې په چمتو کېدو سره د دغه بنسټ لویه اندېښنه لرې شوې ده.

ولسمشریزو ټاکنو ته په نږدې کېدو، د ۱۸ نوماندانو له ډلې ځینو هغو یې له وخته مخکې ټاکنیز کمپاینونه هم پیل کړي دي.

په دې وروستیو کې د ځینو ټاکنیزو ټیمونو ترمنځ د ائتلاف او یو ځای کېدو په اړه هم راپورونه خپاره شوي او ویل کېږي چې د محمدحنیف اتمر، عبدالله عبدالله او ګلبدین حکمتیار ټاکنیز ټیمونه غواړي په خپلو کې سره یو شي، خو د حکمتیار د ټاکنیز ټیم غړي همایون جریر ویلي، د دوی ترمنځ ائتلاف په ټاکنیز بهیر کې د روڼتیا په موخه جوړېږي، نه دا چې یو نوماند دې بل ته د تېرېدو نیت کړی وي.

## صدیقي: د سپټمبر تر لومړیو به له طالبانو سره ابتدایي تفاهم رامنځ ته شي

د وسله والو طالبانو او افغان حکومت ترمنځ د سولې خبرو د پیل لپاره هیلې ډېرې شوې دي.

د ولسمشرۍ ماڼۍ ویاند صدیق صدیقي په کابل کې د یوې خبري ناستې پر مهال ویلي، حکومت به تر راتلونکو څو اونیو پورې له طالبانو سره مخامخ خبرې پیل کړي.

صدیقي ویلي، د سپټمبر په لومړیو ورځو کې به له طالبانو سره لومړی یوه ابتدایي تفاهم نامه لاسلیک او وروسته به مخامخ مذاکرات پیل کړي.

هغه زیاته کړې: «تر اول د سپټمبره به موږ د دې شاهد واوسو چې یوه ابتدایي تفاهم نامه رامنځته شي، تر څو بیا موږه بل پړاو ته لاړ شو، چې هغه پړاو به داوي چې د افغانستان د حکومت او طالبانو ترمنځ به مستقیمې خبرې پیل شي».

د ولسمشرۍ ماڼۍ ویاند دغه راز ویلي، چې سوله د افغان حکومت لومړیتوب دی او د سولې ټینګښت لپاره حکومت خپلې هڅې جاري ساتي.

صدیقي همداراز د ولسمشرۍ ټاکنو په تړاو ویلي، چې حکومت شفافو ټاکانو ته ژمن دی.

نوموړي ویلي، د ټاکنو زماني جدول اعلان شوی او حکومت هم ژمن دی چې د ټاکنو پروسه شفافه، خلکو او د ولسمشریزو ټاکنو نوماندانو ته د قناعت وړ وي.

صدیقي ویلي: «د ټاکنو خپلواک کمېسیون د ولسمشریزو ټاکنو مهالوېش اعلان کړی، افغان حکومت په پوره مانا ژمن دی چې ټاکنې وشي، داسې ټاکنې چې افغانانو ته د منلو وړ وي».

د ولسمشر ویاند دغه راز زیاته کړې، د ټاکنو د پروسې د امنیت په برخه کې هم کار روان ده.

د صدیقي په خبره، د ټاکنو د ترسره کېدو په ورځ به په ټوله معنا سره امنیت ټینګ نیول شوی وي او په یوه امن فضا کې به ترسره شي.

افغان حکومت د سولې په برخه کې د سپټمبر په لومړیو کې له طالبانو سره د یوې تفاهم نامې لاسلیکولو په اړه په داسې حال کې وایي، چې افغانستان ته د امریکا د بهرنیو چارو وزیر د خپل سفر پرمهال هم ویلي وو چې طالبانو سره به د سپټمبر تر میاشتې پورې یوه تفاهم ته ورسیږي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۸۰,۱۵ |
| € | ۹۰,۱۰ |
| Rp. | ۵۰۴ |
| ₹ | ۱۱۷۰ |
| ¥ | ۱۱,۵۰ |
| £ | ۹۹,۸۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |
| **Kam Air** | |
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |
| **flydubai** | |
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپانه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
ایډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
لیکوالان: اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!


flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستۍ برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.

سه شنبه د ۱۳۹۸ د چنګاښ ۲۵مه | د ۲۰۱۹ د جولای ۱٦مه | دریم کال | ٤۰۵مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳٦ | ٤۰ | ٤۳ | ٤۳ | ٤۰ | ۳۹ |
| ۱۹ | ۲۳ | ۲٤ | ۲۹ | ۲٦ | ۲۳ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۱۱ | لمر ختل ۰٤:۵۱ | ماسپښین ۱۲:۰۰ | مازیګر ۰۳:٤۹ | ماښام ۰۷:۰۷ | ماخوستن ۰۸:٤۹

## نړۍ



# ټرمپ: ډیموکراټان دې پر حکومت د نیوکو پر ځای، خپل هېوادونه جوړ کړي

۳

## اردوغان: که ترکیه د اېف-۳۵ الوتکو له ترونه وایستل شي، انقرې ته باید خپلې پیسې بېرته وسپارل شي



د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان ویلي، که متحده ایالتونه ترکیه د اېف-۳۵ ډوله جنګي الوتکو له ترونه وباسي، باید انقرې ته بېرته خپلې پیسې ورکړي.
نوموړي د دغه هېواد له رسنیو سره په خبرو کې ویلي، ډېر ژر به له روسیې څخه د اېس- ۴۰۰ توغندیو دفاعي سیستم د لېږد چارې بشپړې شي او که امریکا له دې کبله د الوتکو د پېر له ترونه وځي، ترکیې ته دې خپلې پیسې بېرته وسپاري.
نوموړي د دغه هېواد له اناتولي خبري اژانس سره په خبرو کې زیاته کړې: «موږ د اېس- ۴۰۰ دفاعي سیستم په پېرلو جګړې ته تیاری نه نیسو، بلکې هڅه کوو چې خپل امنیت ټینګ کړو، موږ ژمن یو چې د دغه سیستم د لېږد چارې به تر ۲۰۲۰ ز کال پورې بشپړوو».
هغه دغه راز ویلي چې د ترکیې ځواکونه به له دغه سیستمه په ښه توګه ساتنه وکړي او د نوموړي په خبره، د دغه سیستم پېرل د ترکیې په تاریخ کې تر ټولو لویه معامله وه.
دا په داسې حال کې ده چې له روسیې، ترکیې ته د یاد سیستم لېږد د امریکا له توندو نیوکو سره مخ شوی و. امریکا خبرداری ورکړی و، که ترکیه له روسیې سره د دغه سیستم د پېر ترون لغوه نه کړي، متحده ایالتونه به انقرې ته د اېف-۳۵ جنګي الوتکو له ورکړې ډډه وکړي او ښایي پر دغه هېواد بندیزونه ولګول شي.
اردوغان ویلي: «موږ د اېف – ۳۵ الوتکو د پېرلو لپاره تر اوسه ۱.۴ میلیارده ډالره تحویل کړي، که ترکیه له دې ترونه وایستل شي، نو زموږ پیسې باید بېرته راکړل شي».

## پامپیو: د ایران نوی وړاندیز تکراري دی، وبه نه منل شي



د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزیر د ایران د ولسمشر حسن روحاني وروستی وړاندیز رد کړی دی.
روحاني ورمه ورځ په یوه ټلوېزیوني وینا کې ویلي وو، که د ټرمپ اداره خپل بندیزونه او بدمعاشي بنده کړي، تهران ورسره خبرو ته تیار دی.
په ورته وخت کې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو واشنګټن پوسټ ورځپاڼې ته د روحاني د دغه وړاندیز په ځواب کې ویلي، دا د ایران د ولسمشر هماغه وړاندیز دی چې جان کیري او بارک اوباما ته یې کړی و.
دا په داسې حال کې ده چې متحده ایالتونو د ایران او نړۍ د پیاوړو قدرتونو ترمنځ د ۲۰۱۵ ز کال له اټومي ترونه تېر کال د وتلو او پر ایران د بندیزونو د بیا لګولو اعلان وکړ.
د ټرمپ ادارې ویلي وو چې دغه ترون به ایران ته دا وړتیا ورکړي چې په څو کلونو کې اټومي وسلې جوړې کړي.
خو تهران یې په ځواب کې داسې اقدامات کړي چې د یورانیمو غني کول به له هغو حدودو واړوي چې په اټومي ترون کې ورته ټاکل شوي وو.
د ایران دغه اقدام د دې لامل شو چې امریکا پر تهران د نورو بندیزونو خبرداری هم ورکړي.


## ادامهٔ اعتراض نامزدان؛ معترضان پشت در سفارت امریکا تجمع کردند



شماری از نامزدان معترض که از سه ماه بدین‌سو به نتیجهٔ انتخابات مجلس نماینده‌گان اعتراض کرده‌اند، این بار پشت در سفارت امریکا در کابل تجمع کرده‌اند.
این نامزدان می‌گویند که حکومت افغانستان آواز آنان را نشنید و ناامید شدند و اکنون می‌خواهند که سفیر امریکا در کابل آواز عدالت خواهی آنان را بشنود.
این نامزدان ادعا دارند، پولی که دولت امریکا برای افغانستان مصرف می‌کند، پول مردم امریکا است، اما این پول در افغانستان در راه درستی مصرف نمی‌شود.
دیوه نیازی، یکی از این معترضان گفته است: «ما از حکومت خود ناامید شدیم؛ اکنون ما تمامی زنان معترض پشت در سفارت امریکا آمدیم و اینجا آواز خود را بلند می کنیم».
صدیقه مبارز، نامزد معترض دیگر نیز بیان داشت: «ما هیچ‌گونه مزاحمتی برای مردم نداشتیم، اما هیچ کسی آواز ما را نشنید و متأسفانه سه بار پولیس بر ما حمله کردند. خواهران ما زخمی شدند در آن رویداد و این کار خلاف قانون است».
خواست اصلی این نامزدان، ایجاد یک محکمه ویژه برای بررسی شکایت‌های شان نسبت به انتخابات ولسی جرگه است. انتخاباتی که به گفتهٔ آن‌ها پر از تقلب و فساد بود.
فرزانه فرهمند، نامزد معترض از بغلان بیان داشت: «امریکا، مسؤلیت آن را دارد که دموکراسی را به افغانستان آورده‌است و باید از دموکراسی حمایت کند. اینان فن می‌دهند و پول می‌دهد و خود شان در اعلامیه‌های خود می‌گویند که سیستم را حمایت می‌کنند؛ پس وقتی سیستم را حمایت می‌کنند امروز ما بر سیستم اعتراض داریم و سند داریم که کمیسیون‌های انتخاباتی جرایمی را انجام داده‌اند».
شمار این نامزدان معترض، به دوازده می‌رسد و از دوازده ولایت کشور استند.

## ژوند

## ژوند زموږ د فکر زېږنده دی



کله مو چې ذهن له مثبتو پیغامونو، نظرونو او تصاویرو ډک کړ، په اتومات ډول دغه ټول مسایل په نیم هوښیار ذهن کې ځای نیسي او له څنډ پرته ستاسو پر کړو وړو اغېز کوي. مخکې مو دې خبرې ته اشاره کړې ده، چې دغه جمله (زه نابغه یم!) څومره پر انسان باندې مثبت اغېز کوي. کله چې تاسو په لومړي ځل دغه جمله او یا نورې مثبتې جملې له ځان سره تکراروی، کېدای شي ډېرې درته په زړه پورې نه وي. کله چې تاسو دغه ډول مثبتې جملې په بیا بیا له ځان سره تکرار کړی، نیمه هوښیار ذهن ته مو ځان رسوي او هلته د ځان لپاره نوی ځای نیسي. نیمه هوښیار ذهن یې په اړه پرېکړه کوي، چې څه ډول جمله ده منفي که مثبته. له هغه وروسته ستاسو پر کړو وړو اغېز کوي. کله چې خدای پاک تاسو ته له قوته ډکې پښې درکړې دي، نو بیا ولې د دې پر ځای چې استورا قدمونه واخلی، پښې پر ځمکه کشوی؟ تاسو باید له حقارت، بدبینی، وړو هیلو او پر ځان کم باور سره ژوند ونه کړی.

## شنه مرچ د بدن دردونه ختموي



شنه مرچک چې ځینې یې سور رنګ هم لري، په زیاته اندازه ویټامینونه، منرالونه او زیات ګټور مواد لري، چې ډېرې روغتیایي ګټې هم لري. تر ټولو مهم دا چې مرچک د وزن په کمولو کې اساسي ونډه لري. د مرچکو ورځنی استعمال د وجود وازده ویلې کوي او وزن کموي. همدارنګه مرچک د وجود دردونه هم ارامولي او د زخم په رغولو کې رغنده رول لري. په ځینو خلکو کې د مرچک استعمال د معدې درد، نس ناسته او د هاضمې سیستم ګډوډېدل هم رامنځ ته کوي. سره له دې چې مرچک ډېر ترخه دي، خو په بېلابېلو وختونو کې روغتیاپالانو ویلې چې له خپل تریخوالي سره سره، ډېرې ګټې هم لري.
روغتیاپالان وایي، شین مرچک د درد کموالي او د اوسپنې ښه زېرمه ده. هغوی چې د اوسپنې له کمښت سره مخ دي، نو له مرچکو څخه دې په خپلو خوړو کې زیات کار واخلي.
شین مرچک د وینې کلسټرول کموي او د وینې فشار ټیټوي، د زړه ناروغیو لرونکو کسانو ته ګټه کوي. همدارنګه شین مرچک د وینې د پاکوالي سبب هم ګرځي.
شین مرچک د خوړو له ژر هضم سره مرسته کوي او د وزن د کمېدو سبب کېږي.